# له خدای سره وخت

## دغه ډول وده کوئ

### د پیل ټکی

الهي کورنۍ ته ښه راغلاست!
هر یو تاسو د پنځو څخه ترلسو دقیقو پورې د خپل د ژوند شهادت وواياست ـــ څه وشول چې پرېکړه مو وکړه د مسیح نه پیروي وکړي؟
څو شیبې یو ځای شکرګزاري وکړئ او له خدایه وغواړئ چې ستاسو د دې وخت دپاره تاسو ته برکت ورکړي.

### بحث او خبرې

د هغو کسانو په هکله فکر وکړئ چې د هغوی سره نژدې اړیکې لرئ. (د کورنۍ غړي، ملګري او همکاران)

- څنګه د هغوی سره اشنا شوئ؟
- په دې خاطر چې هغوی ښه وپیژنې، کوم کارونه کولای شئ سرته ورسوئ؟

زمونږ اړیکې د نورو سره هغه وخت وده کوي، چې د هغوی سره وخت تېروو: د هغوی سره خبرې کوو، د هغوی خبرو ته غوږ نیسو، د هغوی سره کار کوو او یا استراحت کوو او داسې نور.

### اصلي مفکوره

یو مسیحي له خدای سره د وخت په تېرولو سره هغه ته نژدې کیږي او ایمان یې قوي کیږي. درې مهمې لارې شتون لري چې مونږ ټول کولای شو دا کار سرته ورسوو: د انجیل لوستل، دعا کول او د کلیسا سره اړیکه.

راځئ چې د خدای سره وخت تېرول له دې دریو لارو څخه وګورو:

1. **مونږ د سپیڅلي کتاب په لوستلو سره خدای پیژنو.** سپیڅلی کتاب (د خدای کلام) په نامه هم یادیږي، ځکه خدای د سپیڅلي کتاپ په مرسته زمونږ سره خبرې کوي او خپله مینه مونږ ته ښکاره کوي. دا موضوع مونږ ته ښیي چې څنګه کولای شو هغه وپیژنو او د هغه په مینه کې ژوند وکړو.

کله چې سپیڅلی کتاب لولو، د خدای د کلام د حقیقت په وسیله زمونږ زړه او ذهن بدلون مومي. مونږ په دې طریقې خدای پیژنو او د هغه ښې کړنلارې او هدفونه زمونږ د ژوند دپاره درکوو. د سپیڅلي کتاب د اشنایي سره دا ځای کلیک کړئ.

1. **همدارنګه مونږ په دعاکولو سره خدای پیژنو.**

دعا په ساده ژبه د خدای سره خبرې کول دي. لکه څنګه چې د هغه سره خبرې کوو، هغه هم په مختلفو طریقو له مونږ سره خبرې کوي. هغه مونږ ته ځواب راکوي، زمونږ زړه هڅوي، مونږ ته قدرت راکوي او لارښوونه مو کوي.

1. **مونږ خدای د هغه د کلیسا له لارې پیژنو.**

کلیسا د خدای کورنۍ ده چې ټول ایمانداران د هغه غړي دي. کله چې د خدای د کورنۍ سره اړیکه نیسو او یو ځای د خدای عبادت کوو، په ایمان او مینه کې وده کوو.

### په کلام باندې تعمق او غور

د سپیڅلي کتاب دا لاندې ایتونه ولولئ او وګورئ چې د سپیڅلي کتاب په لوستلو او دعا کې څومره زیات برکات شته.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

1. **رومیان ۴:۱۵** د سپیڅلي کتاب لوستل مونږ ته باور او امېد راکوي.
2. **زبور ۱۰۵:۱۱۹** د سپیڅلي کتاب لوستل مونږ ته د ژوند د لارې لارښونه کوي.
3. **فیلیپیان ۴: ۶-۷** دعا له مونږ سره مرسته کوي چې خپلې اندېښنې خدای ته وسپارو او د هغه له حضورنه خوند واخلو.
4. **ارمیا ۳:۳۳** دعا مونږ د خدای په هکله د لویو شیانو خبروي.
5. **متی ۱۸:-۲۰** له نورو ایماندارنو سره ګډون مونږ سره مرسته کوي چې د عیسی حضور زیات تجربه کړو.
6. **عبرانیان ۱۰ : ۲۴-۲۵** له نورو ایماندارانو سره ګډون مونږ مینې او وفادارۍ ته هڅوي.

څومره ښېګنې په همدې ځو ایتونو کې په یوازې توګه د سپیڅلي کتاب په لوستلو او دعا کې شمېرلې شو؟

ډېرغوره کار چې هره ورځ کولای شو سرته ورسوو، دا دی چې له خدای سره وخت تېرکړو. اوس به وګورو چې څنګه کولای شو دا کار پیل کړو.

## همدا اوس په ګډه تمرین وکړئ.

دا درې لاندې ساده قدمونه به تاسو سره مرسته وکړي، چې د خدای سره خپل ورځنی وخت پیل کړئ.

1. له دعا سره یې پیل کړئ: شکر وکړئ د خدای د وجود په خاطر او له هغه نه وغواړئ چې د خدای د کلام د لوستلو په وخت کې له تاسو سره خبرې وکړي.
2. د خدای د کلام یوه برخه ولولئ.
3. په هغې برخې چې لوستې مو ده، فکر وکړئ:
   - دا برخه د خدای په هکله مونږ ته څه وایي؟
   - دا د نن ورځې برخه مونږ ته څه معنی لري؟

اوس د زبور ۱ په کارولو سره دا درې مرحلې پروسه په ګډه تمرین کړئ.

په پای کې په دې هکله بحث او خبرې وکړئ، چې څنګه او چېرې کولای شئ له نورو ایمدارانو سره ګډون ولرئ او په ګډه د خدای عبادت وکړئ.

## هره ورځ خپل تمرین تکرار کړئ.

موږ هره ورځ د تمرین کولو سره وده کوو.
د هر ګام په پای کې د دې دپاره لارښود شتون لري چې تاسو څنګه کولی شئ په راتلونکو ورځو کې تمرین وکړئ.
نن ورځ خپل وخت د ورځنې تمرین لپاره د نظرونو په لوستلو او بحث کولو سره تېر کړئ.
بیا د مرحلې بشپړ په نښه کړئ او د کور کورپاڼې پاپ اپ د یادونې په توګه وکاروئ.

- په دې هفته کې یوه ورځ له نورو ایماندارانو سره یو ځای شئ، تر څو په ګډه د خدای عبادت وکړئ.
- پرېکړه وکړئ چې د سپیڅلي کتاب په لوستلو او دعا په وسیله د خدای سره وخت تېروئ. دا کار تاسو سره مرسته کوي ترڅو له خدای سره ټینګه اړیکه ولرئ.
- ښه دا دی چې د خدای کلام لوستل د لوقا د انجیل او زبور څخه پیل کړئ. د هر یو نه د ورځې یو فصل ولولئ.
- هر ډول هڅونه یا پوښتنه د هفتې په دوران کې د یو بل سره شریکه کړئ.
- د امکان په صورت کې هره ورځ یو ځای پنځه دقیقې دعا وکړئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved